

## خلاصه

### د سفر په وخت په خپلو حقوقو پوه شئ

- TSA او CBP نشي کولای چې ستاسو د دین، توکم، یا قومیت پر بنسټ ستاسې څخه اضافه پلټنې او پوښتنې وکړي
- CBP کولای شي چې په فزیکی توګه ستاسو بریښنایی توکي ستاسې څخه واخلي، خو دوی نشي کولای چې تاسو مجبور کړي چې خلاص یې کړئ. CBP د بریښنایي معلوماتو د پلټنې په برخه کې محدودیتونه لري. د نورو معلوماتو لپاره د CAIR سره اړیکه ونیسئ.
- امریکایي اتباع د پوښتنو د ځواب د نه ورکولو له کبله امریکا ته د راننوتلو څخه نشی بندیدلای. د دي حق د عملیې په صورت کې کیدای شي د ځنډ سره مخ شئ. د شنه کارت لرونکي (مهاجر) امریکا ته د راننوتلو څخه نشي بندیدلای په استثنا د دې چې سفر یې لنډ او د (۱۴)(a) ۱۱۰۱ پراساس بې ګناه نه وي. د دي حق د عملیې په صورت کې کیدای شي د ځنډ سره مخ شئ
- مقاماتو ته د پوښتنو او پلټنو د نه ځواب ورکولو په صورت کې غیرتابعیت لرونکي ویزه لرونکي هېواد ته د ننوتلو څخه بندیدلای شي. د هیواد څخه د وتلو نه مخکې د وکیل سره خبرې وکړئ.
- د سفر پر مهال د تبعیض یا زوروني د راپور ورکولو لپاره له CAIR سره اړیکه ونیسئ

# KNOW YOUR RIGHTS

## د سفر پرمهال
## *While Travelling*

دا معلومات باید د قانوني مشورې په توګه ونه منل شي

**په امریکا کې داسلامي اړیکو شورا**

*Council On American-Islamic Relations*

CAIR

WWW.CAIR.COM

KNOW YOUR RIGHTS

## CBP کولای شی چی لاندې پوښتنی وکړي:

- ستاسو تابعیت.
- ستاسو د سفر موخه.
- هغه څه چې تاسو د ځان سره امریکا ته راوړئ کوم چې د تګ پر مهال له تاسو سره نه وو.
- ستاسې بکسونه او کڅوړې او د هغې د مینځ څیزونه وپلټي او معاینه یې کړي.
- په فزیکي توګه ستاسو بریښنایي توکې ستاسې څخه واخلي، خو دوی نشي کولای چې تاسو مجبور کړي چې خلاص یې کړئ. CBP د بریښنایي معلوماتو د پلټنې په برخه کې محدودیتونه لري. د نورو معلوماتو لپاره د CAIR سره اړیکه ونیسئ

## CBP نشی کولای:

- چې ستاسې د دین، توکم، یا قومیت پر بنسټ تاسو د اضافه پلټنې او پوښتنې لپاره په نخښه کړي.
- پرته له باوري معلوماتو څخه ستاسو څخه عمومی پوښتنې وکړئ او دوی دې ته لار هواره کړي چې دوی باور وکړي چې تاسو ګواکې قانون ماتوئ. د بیلګې په توګه، دوی ستاسو د شخصي ژوند په اړه پوښتنه نشي کولای، یا چیرته وخت تیروئ، کار کوئ یا عبادت کوئ.
- چې تاسو د دین، توکم، یا قومیت پر بنسټ د اضافه پلټنې او پوښتنې لپاره په نخښه کړي.

## TSA پلټنې نشی کولای:

- پرته له باوري معلوماتو څخه ستاسو څخه عمومي پوښتنې وکړئ او دوی دې ته لار هواره کړي چې دوی باور وکړي چې تاسو ګواکې قانون ماتوئ. د بیلګې په توګه، دوی ستاسو د شخصي ژوند په اړه پوښتنه نشي کولای، یا چیرته وخت تیروئ، کار کوئ یا عبادت کوئ.
- زلونې درواچوي یا درباندې ټولې جامې وباسې چې پلټنه مو وکړي.

## کله چې تاسو په سرحد کې د خپلو حقوقو څخه استفاده کوئ ؟

کله چې تاسو په سرحد کې په خپلو حقوقو څخه استفاده کوئ ستاسو د مهاجرت په حالت څه تاثیر کوي؟

- امریکایي اتباع د پوښتنو د ځواب د نه ورکولو له کبله امریکا ته د راننوتلو څخه نشی بندیدلای. د دې حق د عملیې په صورت کې کیدای شي د ځنډ سره مخ شئ.
- د شنه (مهاجر) کارت لرونکې امریکا ته د راننوتلو څخه نشي بندیدلای په استثنا د دې چې سفر یې لنډ او د (۱۴)( a ) ۱۱۰۱ USC پراسا بېګناه نه وي. د دي حق د عملیې په صورت کې کیدای شي د ځنډ سره مخ شئ
- مقاماتو ته د پوښتنو او پلټنو د نه ځواب ورکولو په صورت کې غیرتابعیت لرونکي ویزه لرونکي هېواد ته د ننوتلو څخه بندیدلای شی. د هیواد څخه د وتلو نه مخکې د وکیل سره خبری وکړئ.

**د هوایي شرکت د مسافر په توګه تاسو حق لرئ چې د هوایي شرکت او امنیتی پرسونل لخوا درسره د ادب او احترام نه ډک چلند وشي. که چیرې تاسو باوري یاست چې تاسو سره توپیري او تبعیضي چلند شوی دی نو د شکایت کولو حق لرئ. که تاسو باور لرئ چې تاسو سره توپیري چلند شوی دی نو سمدستی:**



- د ټولو هغو کسانو د نومونو او پیژندپاڼو د شمېرو غوښتنه وکړئ چې په دې کار کې یې لاس درلود. دا ټول معلومات د ځان سره ولیکئ.
- د یو مشر کاګر (آمر) سره د خبرو کولو غوښتنه وکړئ
- پوښتنه وکړئ چې آیا تاسو د خپل نوم، ظاهري وجې، لباس، توکم، قومیت، دین یا ملی اصلیت له امله په نخښه شوي یاست.
- له شاهدانو څخه وغواړئ چې خپل نومونه او د اړیکو معلومات درکړي.
- د پیښې وروسته سمدستي د حقایقو بیان راپور ولیکئ. د الوتنې شمېره، د الوتنې نېټه او د هوایی شرکت نوم په خپل راپور کې شامل کړئ.
- د شکایت کولو لپاره د CAIR سره اړیکه ونیسئ.
- د هوایي شرکت پیلوټ کیدای شي یو مسافر د الوتنې څخه منع کړي که چیرې نوموړی د مسافر د کتنې او نظارت څخه وروسته په دې باور ولري چې مسافر د الوتنې خوندیتوب ته ګواښ دی. پیلوټ نشي کولای چې ستاسو څخه پوښتنه وکړي او یا مو د تبعیضي موقف له کبله چې په هغې کې دین، د توکم مبدا، جنسیت، قومیت او سیاسي عقیده شامله ده، رد کړي.